مرغه

یو وخت په یو ځای کې یو پاچا وه چې نجومي وه. یو کال هغه [په ستورو کې] ولیدل چې که غنم له یوه ټاکلي وخت څخه مخکې لو نشي، ټول غنم به خراب شي او داسې نور. هغه ولیدل چې وخت ډېر کم دی.

هغه داسې پرېکړه وکړه چې هغه به لوګرو ته هر ډول اسانتیا برابره کړي او د هغوی ټولې اړتیاوې به پوره کړي چې هغوی په پوره ارام سره شپه او ورځ کار وکړي او په دې توګه هغوی پسل تر ټاکلې نېټې مخکې ترلاسه کړي.

خو کارکوونکو له هغوی نه د شوې تمې خلاف کار وکړ، او دومره خوشحاله شول چې په پسل باندې کار کول یې هېر شول. وخت راغی، غنم نه وو رېبل شوي، او هغه ټول خراب شول.

خلک نه پوهېدل چې څه وکړي. هغوی پوه شول چې پاچا به هغوی ته سخت په قهر شي. یوه پوه سړي هغوی ته یو نظر ورکړ چې پاچا له یوه ځانګړي مرغه سره سخته مینه لري. که هغوی هغه ته هغسې یو مرغه ورورې، هغه به دومره خوښ او خوشحال شي چې هغوی ته به هر څه وبخښي. خو د هغه مرغه نیول ډېر سخت وه، ځکه چې هغه په هوا کې ډېر جیګ اوسېده. هغوی زینه نه لرله، او بلې خوا ته وخت هم لږ پاتې وه.

پوه [یوځل بیا] هغوی ته یو نظر ورکړ. دا چې په هغوی کې سړي ډېر ول، کېدی شي چې یو یې د بل دپاسه ودرېږي، او دومره لوړ شي چې تر مرغه پورې ور ورسېږي.

خو هغوی یو له بل سره لانجې پیل کړې، ځکه چې هر یوه غوښتل چې پاس په سر کې اوسي، داسې چې ملګري یې ترې لاندې وي. هغوی په خپلو کې د شخړو له امله هېڅ هم ونشو کولی، تردې چې مرغه په خپله مخه والوت. پاچا هغوی ته هماغسې په قهر وه ځکه چې هغوی پسل په وخت ټول نه کړ.